## د افغانستان اسلامي امارت
## د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت
### څېړنې او پراختیا عمومي ریاست
### څېړنې او نوښت ریاست

# د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې بدلونونه او پرمختګ

## (میاشتنی لنډ راپور)

1404/4/29

ګڼه: R&I-D-04-R-1404

# لړلیک


سریزه ..... 2

عمومي موخه ..... 3

موضوعات ..... 4

۱.مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence AI) ..... 4

۱,۱ د (Moonshot AI)د (Kimi K2 )په نوم نوی اوپن‌سورس مصنوعي ځیرکتیا ماډل وړاندې کړ ..... 4

۲,۱ د سامسونګ ګلکسي (Z Fold7) د ټکنالوژۍ د نوې دورې را مینځ ته کېدل ..... 5

۳,۱ (KLEIYN) د توکیو پوهنتون نوښتګر روبوټ چې په دیوالونه خېژي ..... 6

۲ - نوی راڅرګندیدونکي ټکنالوجۍ او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets) ..... 7

۱,۲ د (Mammotion Luba 2) روبوټ رامینځ ته کېدل ..... 7

۲,۲ ګوګل د AI څو اکمن تماس نیوونکي د خاصو ځانګړتیاوو ماډل معرفي کړه ..... 8

سرچینې (References) ..... 9

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاه والسلام على سيد المرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.

## سریزه

ټکنالوجۍ او نوښت د هیوادونو په وده کې مهم رول لوبوي. د انسانانو په لاس د ټکنالوجۍ پرمختک د اوږدې مودې راهیسې په دوامداره توګه وده کړې ده. هر کال موږ د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندېدو خبرونه اورو. د نن ورځې ټکنالوجیو سره آشنا کیدل ممکن د حکومتدارۍ ډول ، سوداګري یا آن زمونږ د ژوند د ډول بدلولو پریکړه وکړي. ټکنالوجۍ یوه ډالۍ ده چې زموږ نړۍ پراخه، اسانه او ډیر په زړه پورې کوي. هر څه چې زموږ لپاره یو خوب دی، کیدای شي چې یوه ورځ د ساینسي پرمختګونو او د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندیدو له امله په واقعیت بدل شي.

په وروستیو لسیزو کې، ټکنالوجیکي پرمختګونو او اړوندو بدلونونو په نړیوالو بازارونو، حکومتونو او ورځني کارونو باندې لوی اغیزې کړې دي. دا پرمختګونه د ډیجیټل حکومتولی، د معلوماتو امنیت، څیړنې او پراختیا، د معلوماتي ټکنالوجۍ نوښتونه، د مخ پر ودې ټیکنالوجیو او نورو معلوماتي ټکنالوجیو سکتورونو په شمول په مختلفو برخو کې پیښ شوي دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د یوازیني باوري مقام په توګه د ټکنالوجۍ په برخه کې هڅه کوي چې د نویو ټکنالوجیو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د څیړنې ودې او د تخنیکي او مخابراتي فعالیتونو د پراختیا په موخه د دې وزارت په چوکاټ کې د څیړنې او پراختیا عمومي ریاست تاسیس کړی. په اوسنی نړۍ کې د ټکنالوجۍ د چټک او هراړخیز پرمختګ له امله، دا څانګه ژمنه ده چې د نویو ټیکنالوجیو اړوند ټولو اړخونو ته بیاکتنه او ارزونه یې وکړي. دا وزارت پروګرامونه او ستراتیژیانې جوړوي او پلی کوي یې ترڅو له نویو ټیکنالوجیو سره معرفت او بلدتیا ولري او په اغیزمنه توګه یې د هیواد خلکو ته وړاندې کړي.

دغه ریاست د نویو ټکنالوجیو د پوهاوي په موخه په بیلابیلو لارو چارو غور کړی دی. دا وزارت هڅه کوي چې د ساینسي سرچینو، تحلیلي مطالعاتو او تخصصي راپورونو د بیاکتنې له لارې د مخ پر ودې ټیکنالوجیو پیژندلو او پلی کولو هڅه وکړي. دا ریاست د خپلو څیړنو له لارې هڅه کوي د نوی ټکنالوجیو د فعالیت امکانات هم وڅیړي. د اړوندو څیړنو په ترسره کولو سره، دا یقیني کوي چې نوې ټکنالوجۍ په ریښتیني شرایطو کې د اغیزمن فعالیت کولو وړتیا لري او که نه.

د دې ټولو هڅو او فعالیتونو سره د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د ټکنالوجۍ په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجیو په برخه کې د نویو ټکنالوجیو پوهه د اړوندو صنعتونو په پراختیا کې، خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو، او د ټولنې د معلوماتو د کچې په لوړولو کې ډیره مرسته کوي.

## عمومي موخه

په سرطان میاشت کې د معلوماتي ټکنالوجۍ د نویو بدلونونو او پرمختګونو په اړه پوهاوی او د هغو شریکول د وزارت له محترم مقام سره.

فرعي موخې

دا راپور لاندې فرعي موخې لري:

- ✓ د نویو ټکنالوجیو معرفي کول او ورسره آشنا کیدل
- ✓ د نویو ټکنالوجیو د اغیزو ارزونه او تحلیل
- ✓ په افغانستان کې د دغو نویو ټکنالوجیو د منظم استعمال لپاره حل لارې او وړاندیزونه

## موضوعات

د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې د چين هېواد نوی پرمختګونه

### ۱.مصنوعي ځيرکتيا (Artificial Intelligence AI)

مصنوعي ځيرکتيا(AI) په هره برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړی دی. دلته د سرطان میاشتې د پام وړ پرمختګونو باندې بحث کوو.

### ۱,۱ (Moonshot AI)د (Kimi K2 )په نوم نوی اوپن‌سورس مصنوعي ځيرکتيا ماډل وړاندې کړ

د چين هېواد په مصنوعي ځيرکتيا کې يو نوښتګر شرکت ( Moonshot AI)، د ۲۰۲۵ د جولای په میاشت کې خپل نوی اوپن‌سورس مصنوعي ځيرکتيا ماډل (Kimi K2)معرفي کړ دا ماډل د نوې ټکنالوجۍ پر بنسټ جوړ شوی، او د پرمختللو علومو، رياضياتو، کودنګ او عامو ايجنټي کارونو (Agentic task) ځانګړتیاوی لري ، (Moonshot ) دا نوښت د خپلو سیالانو، په ځانګړې ډول DeepSeek، پر وړاندې د خپل مقام د ساتلو په موخه کړی دی.

(Kimi K2) د **Mixture-of-Experts (MoE)**په نامه يو مهم معیاری کاروي، چې پکې ماډل په جلا جلا فرعي برخو (يعنې تخصوصی ډول د معلوماتو تحلیل کوي دا طريقه د ماډل د روزنې لګښت کموي او د اجرأ سرعت لوړوي.

(Moonshot)د Kimi K2 دوه نسخې خپرې کړې:

- ✓ **Kimi-K2-Base** : بنسټيز ماډل چې څېړونکو او پراختيا ورکوونکو ته د شخصي تنظيم او ځانګړي حل لارو فرصت ورکوي.
- ✓ **Kimi-K2-Instruct** : د عامې استفادې لپاره چمتو شوی، چټ بوټونو او ايجنټي(Agent)تجربو ته مناسبه نسخه ده.

دا ماډل اوس له ويب او موبايل اپليکيشنونو څخه د عامو کاروونکو لپاره وړيا ترلاسه کېدلی شي.

(Moonshot AI) دا ګام د هغو پراخو هڅو يوه برخه بللې چې د نړۍ په کچه د مصنوعي ځيرکتيا په صنعت کې د **اوپن‌سورس پراختيا** مخ پر زياتېدو ده. دا لاره نه يوازې تخنيکي پراختيا ته زمينه برابروي، بلکې د نړيوالو پراخيدو لپاره د همکارۍ دروازې هم پرانيزي.[۱]




*انځور ۱: Moonshot AIد Kimi K2 په نوم نوی اوپن‌سورس مصنوعي ځيرکتيا ماډل وړاندې کړ*

### ۲,۱ دسامسونګ ګلکسي (Z Fold7) د ټکنالوجۍ د نوي دورې را مینځ ته کیدل

سامسونګ د خپل نوي نوښت( **Galaxy Z Fold7** )په وړاندې کولو سره د فولډېدونکو موبایلونو نړۍ ته یو نوی نوښت رامنځ ته کړی دی دا نوښت نه یوازې د ظاهري ښکلا، بلکې د فني پیاوړتیا له مخې هم یو بې‌ساری پرمختګ ګڼل کېږي د دې ماډل تر ټولو ستر ابتکار یې نری او ښایسته ډیزاین دی، چې د پخوا پرتله یې په ظرفیت کې کموالی نه، بلکې پرمختګ راغلی دی اوس دا موبایل کله چې کات شي، د یو عادي سمارټفون په شان نری ښکاري، او دا پخپله یو انقلابي بدلون دی چې د فولډېدونکو موبایلونو تصور بدلوي.

د تخنیکي ځانګړتیاوو له مخې، **(galaxy Fold7)**د **Snapdragon 8 Elite**پروسسور لري، چې د ۳ نانومتره ټکنالوجۍ له مخې جوړ شوی او له ۱۲ تر ۱۶ ګیګابایټه **RAM**او تر ۱۰۲۴ ګیګابایټه حافظې ،۲۰۰ میګاپېکسله اصلي کامره سره وړاندې کېږي. د دې دوه‌برخې ښودنه، یعنې 6.5 انچه مخکینۍ سکرین او 8 انچه داخلي **(Dynamic AMOLED 2X)**پرده، د 2600 نټ روښانتیا توان لري، چې دا وسیله له **(Android 16)**او **(One UI 8)**سره راځي، او له **(Google Gemini)**مصنوعي ځیرکتیا سره پوره همغږي لري، چې د ځو کارونو هم مهاله ترسره کولو او هوښیار مدیریت زمینه برابروي.

په ټوله کې، **Galaxy Z Fold7**یوازې یو موبایل نه دی، بلکې د نوښت، ښکلا، ځواک او مصنوعي ځیرکتیا یو بشپړ ترکیب دی. چې دا وسیله د عصري ژوند د انسان اړتیاوو ته ژور ځواب وایي؛ [۲]



*انځور ۲: دسامسونګ ګلکسي (Z Fold7) د ټکنالوژۍ د نوي دورې را مینځ ته کیدل*

### ۳,۱ (KLEIYN) د توکیو پوهنتون نوښتګر روبوټ چې په دیوالونو خېژي


د جاپان د توکیو پوهنتون د **((Jouhou System Kougaka Laboratory (JSK)** )څېړونکي په یوه څلورپایي روبوټ باندې کار کړی چې کولای شي د ځانګړې مهارت په مرسته په دیوالونو وخېژي.

نوم یې( **KLEIYN**) دی، وزن یې شاوخوا ۱۸ کیلوګرامه (۴۰ پاونډه)، اوږدوالی یې تقریباً ۷۶ سانتي‌متره، او د بدن ۱۳ مفصلونه (غړي، برخې) لري، چې یو مهم مفصل (غړی) یې د ملا په منځ کې موقعیت لري

**(KLEIYN)**د توکیو پوهنتون یوه نوښتګر روبوټ پروژه ده چې د نړۍ تر ټولو تېز چمني (چټک خېژوونکی) روبوټ سپی بلل شوی ،نږدې دنور روبوټونو په پرتله 50 ځلې تیز دا تخنیکي طرحه که څه هم د پام وړ ده، خو لا هم له ځینو مهمو ننګونو سره مخ ده لکه د زیاتو خلکو د پېژندنې د نشتوالی، او د ماشین ګرمېدل، چې د اوږد فعالیت پر مهال یې تخنیکي ستونزې را منځ ته کېږی

سره له دې نیمګړتیاوو، دا نوښت د نوې هیله څرک دی دا موږ ته دا ښیي چې څنګه یو هوښیار روبوټ کولای شي، نه یوازې په هموارو سطحو، بلکې په عمودي خنډونو کې هم پیاوړی او چټک حرکت وکړي.

دا نوې لاره د روبوټیکي ټکنالوجۍ د راتلونکي لپاره روښانه تخنیکي چارو په ډګر کې به بې‌ساری ارزښت ولري. [3]



*انځور ۳: KLEIYN: د توکیو پوهنتون نوښتګر روبوټ چې په دیوالونه خېژي*

## ۲ - نوی راڅرګندېدونکې ټکنالوجي او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets)

په هره میاشت کې مونږ د نویو ټکنالوجیو او وسایلو د رامینځته کیدلو شاهدان یو. دلته د جوزا میاشتې د ځینو نویو ټکنالوجیو په اړه بحث کوو.

### ۱,۲ د (Mammotion Luba 2) روبوټ رامینځ ته کیدل

**(Luba 2)**یو پرمختللی روبوټي چمن پرې کوونکی (mower) دی چې د GPS ټکنالوجۍ په مرسته کار کوي دا روبوټ د سختو شرایطو لکه ناهمواره او ښوېدونکو ځمکو پر مهال هم خپل مسیر نه ورکوی، برعکس نور روبوټ د ښوېدلو پر وخت خپل مسیر له لاسه ورکوي (Luba 2) که څه هم څو ځله ښوېدلی، خو هر ځل بې خپل موقعیت بېرته سم کړی دی.
د چمن د پرې کولو بڼې (لکه کرښه‌یې یا چکدار) بدلول د مختلفو سیمو، ممنوعه زونونو، او مسیرونو ټاکنه ، د پرې کولو لوړوالي تنظیم لاسوندی کنټرول په روبوټ کې تنظیمېږی د اپلیکیشن کارونه یو څه پېچلي دي، ځینې تنظیمات پټ یا مغشوش دي
( Mammotion Luba 2) یو هوښیار، آرام او دقیق روبوټ دی چې د خپلو امکاناتو له امله د نورو چمن پرې کولو وسایلو (Mowers) په پرتله غوره انتخاب بلل کېږي دا د هغو کسانو لپاره مناسب دی چې غواړي د چمن پرې کولو کار په اتومات ډول ترسره شي او خپل له لاسه ور نکړي. [۴]



*انځور ۴: د (Mammotion Luba 2) روبوټ رامینځ ته کیدل*


## ۲،۲ ګوګل د AI څواکمن تماس نیوونکي د خاصو ځانګړتیاوو ماډل معرفي کړ

ګوګل شرکت په متحده ایالاتو کې ټولو کاروونکو ته یو نوی هوښیار (AI څواکمن)تماس نیوونکی  ماډل وراندې کړ چې خاصو ځانګړتیاوو لری، د شخص په استازیتوب د ځايي پلورنکو سره اړیکه نیسي تر څو د خدماتو د موجودیت او قیمتونو په اړه معلومات راټول کړي پرته له دې چې تاسې خپله د تلیفون زنګ ووهئ او له چا سره خبرې وکړئ.

همدارنګه، ګوګل د خپل لټون سیستم AI Mode (Google Search) ته پرمختګ ورکړی، او پیاوړی  (Gemini 2.5 Pro)ماډل پې پکې شامل کړی، ترڅو د ژورې څېړنې (deep research) وړتیاوې هم پکې فعاله شي د یادونې وړ ده څو کاله مخکې ګوګل د ورته تماس نیوونکي ځانګړتیاوو له امله له نیوکو سره مخ شو، ځکه دا سیستم د انسان غږ تقلید کاوه او ځینې خلک فکر کاوه چې له ریښتوني انسان سره خبرې کوي.

تر دې وروسته، ګوګل اعلان وکړ چې د دوی AI به تل ځان د روبوټ په توګه معرفي کوي اوس دا نوې تماس نیوونکې ځانګړتیا د متحده ایالاتو ټولو کاروونکو ته په مرحله‌وار ډول وراندې کېږي، خو  (Google AI Pro)او  (AI Ultraګډونوالو ته به دا ځانګړتیا لا زیات امکانات او حدونه ولري .[۵].

**دا یو اتومات شوی سیستم دی چې د ګوګل له خوا د یو کاروونکي په استازیتوب زنګ وهي فعلاً په متحده ایالاتو کې کار کوی**




*انځور۵: ګوګل د AI څواکمن تماس نیوونکي ځانګړتیا معرفي کړه*

### سرچینې (References)


[1] https://www.scmp.com/tech/tech-trends/article/3317986/chinese-unicorn-moonshot-launches-ai-model-kimi-k2-red-hot-open-source-market

[2] https://www.technewsworld.com/story/samsung-galaxy-fold7-ushers-in-a-new-era-for-foldable-phones-179824.html

[3] https://interestingengineering.com/innovation/kleiyn-chimney-climbing-robot-dog

[4] https://www.zdnet.com/article/i-tested-the-ferrari-of-robot-mowers-for-a-month-heres-my-verdict/

[5] https://techcrunch.com/2025/07/16/google-rolls-out-ai-powered-business-calling-feature-brings-gemini-2-5-pro-to-ai-mode/